سردار محمد همدرد

۲۰۱۵/۰۹/۱۵

# کرزی او اشرف غني

یو مشهور متل چې زموږ په ټولنه کې مروج دی وایي: «له بدترو بدترې سته» نه پوهېږم دا متل به څه وخت ویل سوی وي، خو زموږ د اوسنیو حالات سره داسې لګېدلی دی، لکه ویونکی یې چې له وړاندې خبر و چې داسې یو وخت به راځي او دا متل به ورسره سمبنت خوري.

د طالبان د نظام له ړنګېدو سره سم د پخواني ولسمشر حامد کرزي په مشری مؤقتي اداره رامنځته سوه چې وروسته بیا د ټاکنو له لارې حامد کرزی واک ته ورسېد او په افغانستان کې هر څه، امنیت، اقتصاد، روغتیا، سیاست، حکومتولي او. له صفره پیل سول، خو ښه خبره دا وه چې پخواني ولسمشر حامد کرزي پراخ بهرنی ملاتړ درلود او په بېلابېلو برخو کې له حکومتولۍ تر سیاست او نورو برخو لپاره ښه زمینه ورته برابره وه.

په هره برخه کې پرمختک وسو، اقتصاد وغوړېد، پوهنیز سیستم وده وکړه، روغتیایي خدماتو کې بدلون راغی، خلک له نړۍ او سیاست سره اشنا سول، پوځي ځواک جوړ سو او بالاخره یو نوی حکومت وزېږېد او په هره برخه کې یې د بهرنیانو په ملاتړ په کرار کرار خاپوړې کولې.

نږدې دیارلس کاله حامد کرزي حکومت وکړ، د حکومت ښه ځانګړنه یې دا وه چې تر ټولو لومړی خو یې له صفره کار پیل کړ، د بیان ازادۍ یو څه وده وکړه، خلک له رسنیو سره اشنا سول، خپله حامد کرزي داسې کرکټر درلود چې د ملي یووالي لپاره یې ډېر کار وکړ، بېلابېل خلک د ده په حکومت کې د نوموړي په دسترخوان راټول و، نوموړی یو ښه مشر او ډیپلوماټ شخصیت و، لویه حوصله یې لره، ښه رهبري یې کوله، خو دغه رهبري یې په داسې سیستم وه چې حکومت کې یې لوړ پوړي چارواکي ډېری جنګسالاران و.

سره له دې چې د کرزي حکومت نوی و، ډېرو کارونو ته اړتیا وه، نوموړي خپله د ښې رهبرۍ یو ښه کرکټر و خو له بده مرغه چې د حکومت ډېری برخه یې په انډیوالي سیستم وویشله، له وزیرانو تر والیانو، ولسوالانو او امنیه قوماندانانو یې ټول خپل انډیوالان پر دندو وګمارل، پر خپل هر ملګري یې باور کاوه او چې هر څه به یې وویل منل به یې.

چې همدغه د انډیوالۍ سیستم یې حکومتي پرمختګونو باندې خلک بې باوره کړل، وځورېدل او دې حد ته ورسېدل چې ځینو خلکو نه پرمختګ غوښته او نه ورته لېوال و.

د کرزي په حکومت کې فساد په ټولو اداراتو کې له دې امله رېښې وځغلولې چې پر واک ناست خلک یې ټول ملګري و، داسې ملګري چې نوموړي سره یې د واک په رسېدو کې ډېره مرسته کړې وه، له یوې خوا که وګورو دا د حامدکرزی غوښتنه وه چې خپل ملګرو ته یې واک ورکړی وای او په دې یې خوشحاله ساتلي وای، خو بل پلو د نوموړي په شخصیت کې دا جوهر هم و چې ښه حکومت وکړي، ښه اداره رامنځته کړي او یو پاک نظام جوړ کړي خو داسې یې ونه کړل.

کرزي نږدې دیارلس کاله حکومت وکړ چې په پای کې د جمهوري ریاست لپاره ټاکنې ترسره سوې چې ټولو افغانانو او نړیوالو د افغانانو لپاره دا په دې خاطر یوه تاریخي شېبه بلله چې په لومړي ځل واک له یو ولسمشر بل ولسمشر ته په سوله ییز ډول سپارل کېده، خو داسې ونه سوه، ټاکنیزه پروسه دومره جنجالي او له نانډریو ډکه سوه چې په ټوله نړۍ کې اوږدې جنجالي ټاکنې همدا وبلل سوې، بالاخره محمد اشرف غني ولسمشر او ډاکټر عبدالله عبدالله اجرائیه مشر اعلان سو.

تر دې وروسته هم خلک خوشحاله ول، هېلې یې لرلې، د ښه امنیت، اقتصادي پرمختګ او فساد د ورکېدو تمې یې لرلې خو داسې ونه وسول.

اوسنی ولسمشر محمد اشرف غني چې ښه سابقه لري، یو عالم او متفکر انسان دی، ټولو افغانانو له همدې امله ډېره رایه ورکړه چې د ده په علمیت یې باور درلود، د حکومت او ولسمشرۍ لپاره یې مثبتې طرحې او هېله ورکوونکې نظریات لرل، په ټاکنیزو کمپاینونو کې یې د پاک او ناپاک خبرې ډېرې کولې، هره خبره یې خلکو داسې انګېرله چې افغانستان به په هره برخه کې یو چټک او تاریخي ګام اخلي او نړۍ سره به سیالۍ کولو ته تیار وهي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

خو ولسمشر اشرف غني څنګه چې خلکو فکر کاوه هغه ډول کارونه يې ونه کړل، تر ټولو ستره خطا يې دا وه چې د ټاکنيزو ناندريو پر وخت يې واک ووېشو، د افغانستان په څېر هېواد کې دوه مشران حاکم سول او هر يوه خپله رسۍ کشوله، اشرف غني د امريکا د بهرنيو چارو وزير جانکيرى په منځګړيتوب داسي مهال واک له ډاکټر عبدالله ووېشو چې څو موده وروسته خپله جان کيري وويل، ولسشر اشرف غني مجبور نه و چې واک يې وېشلى واى.
د شريک حکومت بدې پايلې خو هر چاته مالومي دي، او زموږ ستر مفکر ته خو بايد مالومي واى، ځکه ټول حکومت د دواړو ترمنځ شريک، وزيران شريک، واليان شريک، ولسوالان شريک او ان د يو کوچني مامور په ټاکنه کې هم د دواړو هوکړه مهمه ده، نو که دغه شريک حکومت هر څومره قوي وي، مالومه خبره ده چې هيڅ پرمختګ به ونه کړي او ټول حکومت به په خپل منځي ناندريو تېر سي او دا دى موږ تاسي وليدل چې تر اوسه د ولسمشر او اجرائيه مشر تر منځ تا ويلي او ما ويلي رواني دي چې دا دى د حکومت تر جوړېدو يو کال تېر دى خو د دفاع وزير لا هم نه لرو.
که اشرف غني مجبور هم واى، لومړى يې بايد واک نه واى ويشلى، که بله لار يې نه لرلى نو استعفا يې بايد ورکړې واى، لږ تر لږه افغانانو ته خو به مسؤول نه واى او بله دا چې که واک ډاکټر عبدالله ته سپارل سوى واى، نو اوس به حالت هم داسي نه واى.
بل لويه غلطي د ولسمشر دا ده چې هر وخت ژمني کوي خو نه يې عملي کوي، چې دغه کار هم پر ولسمشر ولس ډېر بې باوره کړ او اوس يې په هيڅ خبره باور نه کوي، د هر چا له زړه وتلى دى. احساساتي پرېکړې بله هغه لويه تېروتنه ده چې ولسمشر يې کوي، چې په لومړيو کې د هرات ولايت ته ولاړ، هلته يې ټول دولتي چارواکي له دندو ليرې کړل، خو هيڅ ګټه يې ونه کړه.
امنيتي ټرون هغه ستره او لويه تېروتنه وه چې ولسمشر غني په پټو سترګو لاسليک کړ، پخواني ولسمشر چې ټرون په اسانه نه لاسليک کاوه خوتر شا يې يو څه ليدل، خو اوسني ولسمشر داسي ونه کړل، نه يې له بهرنيانو ضمانت واخيست او نه يې کوم شرط پرې کېښود خو ټرون يې امضا کړ.
ولسمشر په اوسنيو نازکو حالاتو کې چې افغانستان له هر پلوه له بېلابېلو ګواښونو او ځوړتيا سره مخ دى، په هيڅا هم باور نه کوي، زياتي ژمني کوي خو نه يې عملي کوي، له يوې خوا يې ډېر تمرکز په خارجي سياست دى او بل پلو دننه په هېواد کې هم توپيري چلند کوي، يو ولايت ته پاملرنه کوي خو د بل ولايت په وړاندې بيا داسي چلند کوي لکه په افغانستان کې چې نه وي حساب.
نو له همدې امله ويلى سو چې: «له بدترو بدترې سته.» موږ له تېر حکومت ناخوښ و، خو تر هغې بدتر رابانديې راغى.
ولسمشر ته تر ټولو مهمه دا وه چې لږ تر لږه د تېر حکومت سياسي، امنيتي او اقتصادي پرمختګ خو يې بايد ساتلى واى، دا به هم د نومړي لپاره لويه توره واى او ولس به دومره نه اندېښمن کېده او نه به حالت دومره خرابېدى.
اوس افغانستان له يو داسي حالت سره مخ دى، چې نه ولسمشر پوهېږي چې څه وکړي او نه د ولسمشر بل نږ دې مشاور او يا هم اجرائيه مشر.
له ډېرو اندېښنو او د حالت نازکوالي ډېرى افغانان اړ کړل چې له هېواده بهر ووځي چې نن سبا يې موږ او تاسو عملاً وينو چې اروپا ته روان دي.
د حالت د قابو کولو لپاره بايد ولسمشر جدي فکر وکړي، مشورې وکړي، د ولس له رښتينو استازو، مدني فعالانو، ديني عالمانو او پر وطن خواخوږي بايد راوغواړي، د ولس له منځه ولسي خلک بايد راوبلي او د حالاتو د قابو کولو لپاره جدي پرېکړه وکړي.

پاى


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ